عبدالوحيد وحيد

۲۰۲۶/۰۸/۲۶

# د واک پر سر جګړه؛

## ولې د سیاست وروستی ژبه وګنل شي؟

زما د لاندې ليکنې موخه قطعاً د اوسني نظام له ټولو تګلارو او کړنلارو څخه ملاتړ نه دی او نه يې هم د عُقدو پربنسټ مطلق مخالفت کوم، بلکې په کورنيو او بهرنيو تګلارو کې د خورا زياتو نيمګړتياو او ترينګلتياو له شتون سره سره، په هېواد کې له تيرو پنځو لسيزو راپدېخوا د بيساري امنيت او د هېواد په بشپړه جغرافيه باندې د اوسني نظام تسلط هغه ځانګړتياوې دي چې په انتظار مو ورته سترګې سپينې شوې دي. البته بايد ووايم چې اوسنی امنيت قطعاً حکومت ته داسي برائت نه ورکوي چې د هېواد او ولس د ښېګڼې او ښيرازه راتلونکې لپاره خپلو نيمګړتياو ته متوجه نشي. همدغه شان د هغو سياستوالو تګلاره هم د توجيه وړ نه ده چې د روانو ستونځو په وړاندې جګړه د حل لاره ګڼې. له جګړې پرته د سوله ييزو نوښتونو لټون او د داسې اجماع رامنځته کولو لپاره مبارزه اړينه ده چې په هغه کې د ځواک کارولو له مخې د نظامونو نسکورول او يوازې د زور کارولو په مټ حکومتي تسلط ته دوام ورکول د توجيه وړ نه وي.

د نظامونو نسکوريدل په هيڅ صورت د افغانانو دردونه رنځونه کړاوونه او بد حالت نه ختموي بلکې له يو ډول ناوريني حالت څخه نجات مومي خو دَ ستونځو په بل ګرداب کې نښلي. د سمون او بدلون لپاره ولسونه له تيرو پنځو لسيزو راپدېخوا قرباني ورکوي او اوس بايد سياسي مشران د واک او امتيازاتو قرباني ته ته وړاندي شي. د ولسي مشارکت اصل جدا خبره ده خو د سياسي ناستو په بهير کې بايد د نظام د نسکوريدل، سياسي امتيازات ترلاسه کول او د واک وېش د خبرو په اجندا کې لومړيتوب ونلري. د تأسف ځای دی چې ځينې هغه افغانان چې ځانونه روڼ آندي ګڼي، له خپلې کورنی سره يې مصئون او مآمون هېواد کې اوسيږي خو تعصب، عُقدو او د واکمني جنوني رنځونو يې فکري انډول او ذهني وړتياوې له منځه وړې دي او له پرديو هېوادونو څخه د کورنيو جګړو ملاتړ کوي.

معلوماتي ټکنالوژي په اوسني عصر کې د انسانانو ترمنځ اړيکې، د معلوماتو لټون، ټولنيز حقونه، د واک او مسئوليت ترمنځ د توازن اړتيا، د حساب غوښتونکو او حساب ورکوونکو ترمنځ اړيکې، سياسي بلوغ او د کورنيو شخړو د سوله‌ييز مديريت لپاره بې‌ساري امکانات رامنځته کړي، خو متاسفانه ځينې افغانان لا هم د نظام او ولس ترمنځ د سياسي اختلافاتو د حل لپاره جګړه د ستونځو د حل لاره ګڼي. متل دی وای چېرته چې استدلال ختميږي نو جګړه پيليږي. د ځواک کارولو او د وينې په تويولو باندې تمرکز يوازې سياسي تېروتنه نه ده؛ بلکې زموږ د فکري ودې، علمي پوهې، سياسي نبوغ او د خپل برخليک د خپلواکه مديريت د وړتيا په اړه هم جدي پوښتنې راپورته کوي.

تاريخ شاهد دی چې له حکومت سره د سياسي اختلاف له امله جګړو ښه نتيجه نه درلوده . اختلاف د هرې ټولنې طبيعي برخه ده او د سياسي نظام دنده دا نه ده چې اختلافات د ځواک په کارولو له منځه يوسي، بلکې دا ده چې اختلافاتو ته داسې قانوني، سياسي او مدني چوکاټونه تيار کړي چې د زور او تاوتريخوالي پر ځای د خبرو، عامه پوهاوي، مشارکت، قانون، مدني فشار، منځګړيتوب او توافق له لارې له منځه لاړ شي. په بل عبارت، په کور د ننه د نظام د بلوغ کچه له دې څخه نه معلوميږي چې حکومت څومره ځواک لري، بلکې له دې څخه معلوميږي چې له خپلو وګړو او سياسي مخالفينو سره څنګه چلن کوي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ

زموږ د هېواد اوسنی حالت او د بیکاري کچه د زغملو او منلو نه دی. که نظام د خپل مشروعیت د پیاوړتیا، د خلکو د باور په ترلاسه کولو او د مخالفت د مدیریت لپاره له سیاسي او مدني وسایلو څخه کټه نه اخلي او پر ځای یې یوازې په زور باندې تکیه کوي، نو حکومت په خپله د خپل سیاسي ظرفیت کمزورتیا ننداري ته وړاندې کوي. همدغه شان که ولس د خپل نارضایت ، غوښتنو او سیاسي بدلون لپاره له جګړې پرته بله مدني او سوله‌ییزه لاره لاره نشي موندلای، دا هم د سیاسي بنسټونو، ټولنیزو جوړښتونو او د سیاستوالو د وړتیاو د کمزورتیا نښه ده.

د معلوماتي ټیکنالوژي له برکته نن د نړۍ په هره برخه کې ولسونه کولای شي خپل نظرونه ډېر ژر او په اسانه له یو بل سره شریک کړي، عامه افکار تنظیم کړي، د حکومتونو په تګلارو باندې اغېز وکړي، مدني حرکتونه رامنځته کړي او د سیاسي غوښتنو لپاره پراخ ټولنیز ملاتړ جلب کړي. معلوماتو ته لاسرسی، ټولنیزې رسنۍ، ډیجیټلي اړیکې او د عامه پوهاوي لپاره پراخ امکانات د سیاسي مبارزې بڼه په بنسټیز ډول بدله کړې ده. په داسې شرایطو کې د سیاسي اختلاف د حل لپاره له بهرنیو هېوادونو څخه توپک ته د لاس اچولو لپاره انلائن مبارزه پوښتنه راپورته کوي چې تلقین کوونکي د افغانانو بچیان جګړو ته د تشویق کولو پرځای ولې په خپله د جګړو له ډګر څخه لېرې په خوندي چاپېریال کې له خپلو بچیانو سره اوسېږي او ولې دغه دنده په خپله نه ترسره کوي؟

د توپک ماشه باندې سیاسي اختلافات نه حل کېږي؛ بلکې له سیاسي ډګر څخه یې امنیتي ډګر ته انتقالوي. که د خلکو مشروع غوښتنې د زور له لارې له فشار لاندې نیول کېږي نو اصلي عوامل له منځه نه ځي. یوازې د مطرح کولو لاره یې بدلېږي. په دغه حالت کې سیاسي نارضایتي او مخالفت ممکن د کورنیو او بهرنیو اړخونو د ګډو تعامل په نتیجه کې په وسله‌وال مقاومت بدله شي. له همدې امله، زور کله ناکله ستونځه له فشار لاندې نیولای شي، خو د هغې د ریښو د له منځه وړلو ضمانت نشي کولای.

همدا راز د سیاسي اختلافاتو د حل لپاره وسله پورته کول ممکن نظام نسکور کړي، خو د بل سالم نظام د جوړولو ضمانت نشي ورکولای. د جګړې له لارې د سیاسي جوړښت نړول ممکن اسانه وي، خو د مشروع، حساب‌ورکوونکي، منل شوی او په معیارونو برابر نظام جوړول له جګړې څخه زیات فکري، سیاسي او بنسټیز ظرفیت غواړي. مهمه نه ده چې څوک په جګړه کې بریالی کېږي؛ بلکې دا ده چې څوک کولای شي د اختلافاتو د حل لپاره داسې سیاسي چوکاټ جوړ کړي چې راتلونکې نسل د اختلافاتو د حل لپاره توپک ته اړتیا ونه لري.

بشپړه خپلواکي دا نه ده چې هېواد خپل بیرغ، خاوره، تسلط او حاکمیت ولري، بلکې داده چې هېواد د خپلو ستونځو د حل، د خپلو اختلافاتو د مدیریت او د خپلو سیاسي پرېکړو کولو لپاره خپل فکري ظرفیت، خپل سیاسي لیدلوری او خپلواک بنسټونه ولري. هغه ټولنه چې د خپلو کورنیو اختلافاتو د حل لپاره تل زور، وسله، بهرنی منځګړیتوب یا د نورو د تجربو تقلید ته اړتیا ولري، د حقوقي حاکمیت تر څنګ د فکري او سیاسي خپلواکي ګراف له ښکته والي سره هم مخ ده.

موږ باید ومنو چې د اختلافاتو د سوله‌ییز مدیریت لپاره اړین سیاسي او فکري ظرفیت نلرو. که غواړو خپلمنځي تاوتریخوالي له منځه یوسو، باید د توپک د ماتولو تر څنګ هغه فکري او سیاسي تګلاره هم بدله کړو چې توپک د حللارې په توګه اړتیا ګڼي. د هېواد پرمختګ هغه وخت باوري کېږي چې د اختلافاتو د حل لپاره وړتیا ولري، د مخالف نظر لپاره ځای ولري، د سیاسي رقابت لپاره مشروعې لارې ولري او د ستونځو د حل لپاره مدني حل لارې ولری. که په دې عصر کې هم د نظام او ولس ترمنځ سیاسي اختلاف په توپک حل کېږي، نو دا زموږ د علمي، فکري او سیاسي نبوغ د نیمګړتیا او د خپلواک تصمیم نیولو د ظرفیت د کمزورتیا جدي انعکاس دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ